THE WORLD BANK

Working for a World Free of Poverty

**مطبوعاتي خپرونه**

| | |
|---|---|
| اړيکي: *په کابل کې:* عبدالروف ضياء ۷۰۲۸۰۸۰۰ (۹۳)<br>بريښناليک: azia@worldbank.org<br>په واشنگتن کې: اريك نورا ۴۷۳۵ ۴۵۸ (۲۰۲)<br>بريښنا ليک: enora@worldbank.org | **خبرى خپرونه نمبر:**SAR /۲۰۰۷ |

# نړيوال بانک د مرغانو له والگي سره د مبارزې په برخه کې د افغانستان د هڅو ملاتړ کوي

**واشنگټن، د ۲۰۰۷م کال د جنورۍ11 مه** – نړيوال بانک نن ورځ د مرغانو د شديداً پتوجنتيک والگي د خطر اقل حد ته رسولو لپاره د افغانستان دولت د هڅو د ملاتړ لپاره د ۸ ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت وړيا مرسته منظور کړه.

د مرغانو د والگي د کنټرول او د بشري پانډيمۍ په وړاندې د چمتووالي او غبرگون پروژه انسانانو ته د مرغانو د والگي له سرايت څخه د مخنيوي، او د څارويو په سکتور کې د شديداً پتوجنيک والگي د وقايې، کشف، کنټرول او له منځه وړلو د فعاليتونو برابرولو او پلي کولو لپاره جوړه شوې ده. دا پروژه به د ستراتيژيکو تبليغاتو له لارې د عامه پوهاوي د لوړولو لپاره له يو ملي پروگرام څخه هم ملاتړ وکړي.

د ملگرو ملتونو د غذايي موادو او کرهنې اداري له هغو نمونو څخه چې په څلورو ولايتونو کې له کورنيو چرگانو څخه اخيستل شوې وې، د مرغانو د والگي د H5N1 ويروس د ۲۶ مثبتو پيښو رپوټ ورکړى دى. دا ويروس چې د لومړي ځل لپاره د ننگرهار په ولايت کې وموندل شو، په ډيري چټکۍ سره پنځو گاونډيو او نژدې ولايتونو (کابل، لغمان، لوگر، پروان او کاپيسا) ته سرايت وکړ. خو لکه څرنگه چې د مرغانو مهاجرتونه د مې په مياشت کې ودريدل، له هغه وروسته ددې ويروس پيښې په افغانستان کې نه دي ترسترگو شوې.

"*که څه هم په تيرو شپږو مياشتو کې نوې پيښې نه دي ترسترگو شوې، مونږ بايد ډير خوشحاله ونه اوسو*" دا مطلب د افغانستان لپاره د نړيوال بانک سرپرستې مديرې ښاغلې مريم شيرمان څرگند کړ او زياته يې کړه "*افغانستان د مرغانو د والگي د ويروس په وړاندې ډير زيات زيانمنيدونکى دى، په ځانگړې توگه له دې امله چې د چرگانو ساتل د زيات شمير افغانانو په ژوند کې يو ستر رول لوبوي. دا پروژه به په حيواناتو او انسانانو کې د دې ناروغۍ او د هغې له امله رامنځته کيدونکو اقتصادي تاوانونو د راکمولو په برخه کې مرسته وکړي.*"

د افغانستان کابو ۸۵ په سلو کې کليوال خلک د کرنيزو حاصلاتو او څارويو په توليد کې لاس لري. له اټکل سره سم په افغانستان کې له ۱۲ ميليونو څخه زياتې کورنۍ چرگې موجودې دي چې په اوسطه توگه په هرې کورنۍ کې ۴ چرگانې شته. اټکل کيږي چې ددې چرگانو ۹۸ په سلو کې د کورنۍ د کڅافاتو يا خځلو د راغونډولو په ځاى کې ساتل کيږي، نوموړو چرگانو ته خوراکي مواد او درمل په ډيره کمه اندازه ورکول کيږي، يا هيڅ ډول خوراکي مواد او درمل نه ورکول کيږي.

افغانستان د شديداً اخته کوونکو او وژونکو ناروغيو د سرويلانس ملي سيستم نلري او د حيواناتو يا انسانانو د شکمنو پيښو د نمونو د راغونډولو، ساتنې او منطقوي لابراتوارونو ته د هغوى د چټکې استونې کم ظرفيت لري. سربيره پردې، د ويروس ضد درمل، د شخصي ساتنې وسايل او د شيوع په صورت کې د تجريد لپاره وسايل نشته. په خصوصي او عامه سکتورونو کې د وټرنرۍ د خدماتو عرضه محدوده ده.

ددې پروژې مجموعي لگښت ۱۳ ميليونه امريکايي ډالر اټکل شوى دى چې له دې څخه ۸ ميليونه امريکايي ډالر نړيوال بانک او پاتې ۵ ميليونه امريکايي ډالر به د انسانانو او مرغانو د والگي د اماناتو صندوق ورکړي. دا پروژه به د ۳ کلونو په موده کې د کرنې او اوبولگولو د وزارت تر مشرۍ لاندې د مرغانو د والگي د کنټرول بين الوزارتي کميټه پلي کړي.

دغه وړيا مرسته د نړيوال بانک د نړيوالې پرمختيا د اداره يا **IDA** له خوا برابر شوې دي..

مهرباني وکړئ په افغانستان کې د نړيوال بانک په هکله د لازياتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره http://www.worldbank.org.af انټرنټي پاڼې ته مراجعه وکړئ.

مهرباني وکړئ ددې پروژې په هکله د لازياتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره په لاندنۍ انټرنټي پته مراجعه وکړئ:
http://www.worldbank.org.af/external/projects/main?pagePK=64283627&piPK=73230&theSitePK=305985&menuPK=306018&Projectid=P100935